انجنیر سلطانجان « کلیوال »
تورنتو ــ کاناډ

۲۰۱۶/۰۲/۰۵

# په افغانستان کی د ملی زعامت د جوړښت اړتیا وی

تر ټولو د مخه غواړم چی دحقایقو په اوریدو سره څوک رانه خوابدی نه شی او ورسره هیله من یم چی ځان هماغه ډول نورو ته څرګند کړو لکه څنګه چی یو .

افغانان په ربښتیا سره زړور او باغیرته خلک دی، څوانمرده دی، میلمه پاله دی، با ناموسه دی او په همدی توګه نور هم ډیرانه صفتونه لری، خو د دی تر څنګه ډیری کمزوریانی هم لری او تر ټولو لویه کمزوریی بی اتفاقی او بی ځایه غرور او ځان غوښتنه ده. د افغانانو همدا کمزوری ددی سبب شوی دی چی غالباً د تاریخ په ټولو اوږدو کی، دا خلک د یوه ملی مدبر زعامت د لرلو نه بی برخی پاتی شویدی. که د تاریخ پانی را واړوو او لږ په زیر او غور سره یی وڅیړو، د خود خواهی او ځان غوښتنی پرته دسم قضاوت او انصاف له مخی خپله ماضی مخی ته کیدو، نو په یقین سره به دا ومنو چی زمونږ ملت هیڅ وخت د یوه ملی زعامت لرونکی نه و. د دی د پاره چی دا خبره ومنلی شو مجبوریو چی لومړی ملی زعامت تعریف کړو، او بیا په خپل وطن کی تیر شوی واکمنان د همدی تعریف له مخی تر قضاوت لاندی ونیسو، ترڅو و پوهیږو چی آیا زمونږ په وطن کی واکمن اشخاص او یا ډلی ټپلی ملی رهبران وو او که نه؟ زما له نظره :

«ملی زعامت هغی لار ښودی ډلی ته وای چی په هر ډول حالاتو کی د خپل وطن او خپلو خلکو د ګټو دتامین، ملی یووالی، ملی خپلواکی او نړیوال حیثیت د ساتنی د پاره کار کوی او د خپلو ملی شتمنیو د ساتنی او د هغی نه د سالم ګټی اخستنی په منظور د ملی کدرونو د روزنی او د ملی ظرفیتونو د را منځ ته کولو پر بنسټ، د وطن د آبادی او سوکالی په لاره کی دوامداره هلی ځلی کوی ».

که چیری له هغه وخته راهیسی، چی موجوده افغانستان د ځمکی په جغرافیه کی د یوه مستقل هیواد په توګه رامنځ ته شوی دی، حتی د تاریخ په یوه دوره کی هم د یو ملی زعامت لرونکی وای نو په یقین سره به نن مونږ په نړی کی تر ټولو فقیر، تر ټولو بی نظمه او تر ټولو د فاسدی رهبری لرونکی هیواد نه وای . اول خو زمونږ هیواد د یوه ملی زعامت د لرلونه بی برخی پاتی شویدی، او که کوم داسی یو شخصیت را پیدا شوی هم وی چی د افغانستان د خلکو د سوکالی او آبادی خیالات ورسره وو، د دی هیواد د خلکو تاریخی دښمنانو درنګا رنګ دسیسو په نتیجه کی هغه زعامت له منځه وړی او یو بل ګوډاګی او لاس پوڅی یی د هغه په ځای کښینولی دی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

تر کومه ځایه چې څرګنده ده زمونږ په اوږده تاریخ کې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه دوره چې نسبتأ ارامه او د کم ټولنیز پرمختګ سره ملګرې وه، یوه هسې دوره بللی شو چې د ملت جوړونې پروسه پکې روانه وه، د ظاهرشاه د سلطنت وروستي لس کلونه چې د دموکراسۍ دوره ورته ویله کیږي، د منتخبو حکومتونو په لړلو سره دې هیواد ته تر یوه حده پورې نړیوال حیثیت او اعتبار ترلاسه شوی و، خو د ۱۳۵۲ کال د سرطان د ۲۶ نیټې نظامي کودتا چې د هغه د کاکا د زوی سردار داودخان په مشرۍ تر سره شوه، نه یواځې نیم بنده دموکراسي یې له پښو وغورځوله بلکې دنړیوالو زبرځواکونو لاس را غزونې او بلاخره مستقیمې مداخلې ته یې هم لاره پرانستله.

د وخت شوروي اتحاد د بل هر چا نه زیات په دې بریالی شو چې خپل طرفدار اشخاص چې د مشرتابه ظرفیت او لیاقت یې نه درلود د داود خان د جمهوري نظام په زعامت کې ور داخل کړي او په همدې توګه تر هغې دیوې ستري فاجعې او د ۱۳۵۷ کال د ثور د اومې خونړۍ کودتا ته لاره پرانزي . شوروي زمامدارانو په جلتۍ سره زیار ویسته چې افغانستان د منځنۍ آسیا د نورو هیوادو په څیر په خپلو مستعمرو کې راولي نو ځکه یې تلاش کاوه چې داسې یو زعامت د افغانستان په خلکو ومنې چې د دوی هر دستور بې له کوم فکر او تأمل څخه په عمل کې پیلې کړي، د همدې هدف د پاره یې د دوه کلونو نه په کمه موده کې څو رهبري را منځ ته کړي، په لکونو بې دفاع وګړي د وطن پرېښولو ته مجبور کړل، په لسونو زرونه کسان خصوصأ دتعلیم والا اشخاص یې په زندانونو کې واچول او د دوی ګڼ شمیر یې په ډیرې بې رحمۍ له منځه یوړل، د وطن په درو او باندو باندې د ځمکې او هوا له لورې د اور ګذارونه پیل شو، کروندې او باغونه تباه شول او په لکونو کلي په کنډوالو بدل شول. دا لوبه هلته دننه په افغانستان کې روانه وه، د هیواد نه بهر د مهاجرو حالات له دې نه څو چنده زیات خراب او افغان کډوال دظلم، تشدد او سپکاوي سره مخا مخ ول. غربي نړۍ په سر کې د متحده ایالاتو واکدارانو د سیمې د غرض لرونکو هیوادونو، لکه پاکستان او ایرن په مرسته د افغاني مقاومت په جوړیدلو لګیا شول او غوښتل یې چې خپل حریف شوروي اتحاد له هماغسې حالاتو سره مخامخ کاندي لکه دوی چې یې په ویتنام کې ورسره مخامخ کړي ول.

دافغانانو د دې ملي مقاومت ملاتړ د دې د پاره نه کیده چې د کمونستي رژیم تر ړنګیدو وروسته دې په افغانستان کې یو داسې دولت جوړشي چې هغه دې د دې هیواد د بیلا بیلو قومونو تر منځ د ملي یووالي روحیه را پیاوړې کړي، وطن دې د آبادۍ او لوړتیا په لور روان کاندي او یو په ځان متکي او خپلواک افغانستان دې په نړۍ او منطقه کې وجود ولري. نو د همدې کبله و چې په پاکستان کیې اوه او په ایران کیې اته هسې جهادي تنظیمونه جوړ کړل چې د لومړۍ ورځې نه د همکارۍ پرځای په دښمنۍ او یو دبل د سرکوبۍ د پاره میدان ته را و وتل. دې هلو ځلو دوام پیدا که او جهادي تنظیمونه ترهغې د غربي نړۍ د سپورت نه برخه من ول چې شوروي اتحاد مات شو او په افغانستان کې یې وروستي پلوي رژیم له پښو ولوید. کله چې جهادي ډلې افغانستان ته داخلې شوې نو وطني او عقیدوي جنګونو خپل ځای، سمتي، لساني او قومي جنګونو ته پرېښوده او په پاکستان او ایران کې جوړشوي جهادي مشران په دې و نه توانیدل او یا یې ونه غوښتل چې خپل قوماندا نان کنترول او په شریکه یو مرکزي حاکمیت را منځ ته کړي. د دې جنګونو نتیجه دا شوه چې د کلیو او باندو په څیر د هیواد ښارونه، خصوصأ د کابل ښار چې د هیواد ټولو قومونو پکې شریک ژوند در لود وران، په

زرگونو بی دفاع کسان هلاک او د ښار په هره کوڅه کی ځانگړی پاچاهی جوړه شی. په دی وخت کی دامریکا متحده ایالاتو حکومت هم افغنستان او افغانان په مکمله توگه له پامه و غورځول، دی ته زمینه برابره شوه چی د نړی ټول یاغیان دی غرنی او بی دولته هیواد افغانستان ته را و کوچیږی او د خپلو هدفونو د لاس ته راوړنی دپاره لاس په کار شی.

پاکستان هم د موقع نه په گټی اخستنی د طالبانو ډله چی تر ټولو شدیده قهر آمیزه، افراطی او سنتی اسلامی ډله وه د جهادی تنظیمونو د واکداری د ختمیدو د پاره سره را منظمه کړه، د هغوی ملایی ور وترله او خپل پرونی اندیوالان یی پری و ځپل، طالبانو چی کله کابل ونیوه نو د هماغه شریعت په تطبیق یی پیل وکه چی پاکستانی او عربی ملایانو جوړ کړی و، ټول مکتبونه په دینی مدرسو بدل شو، ښځی له هر ډول ټولنیز کار نه بی برخی شوی، له دوه دری اسلامی هیوادو پرته له ټولی دنیا سره یی اړیکی پری شوی، دهیواد اقتصاد په ټپه ودریده او ورسره د القاعدی د ډلی چی نړیوال یی د یوی تروروستی ډلی په حیث پیژنی فعالیتونه لا پسی پراخ شول، د بامیانو په دره کی د بودا مجسمی چی د افغانستان د لرغونی فرهنگ یوه ویاړمنه برخه وه، ویجاړی او تقریباً د هیواد واکداری د القاعدی د لیډرشیپ لاس ته ورغله.

په کینیا او تانزنیا کی د امریکا په سفارتونو گذارونه د دی سبب شول چی امریکا ته یو ځل بیا افغنستان ور په یاد کړی، د بیل کلنتون دموکرات حکومت په افغانستان کی دننه د القاعدی په مرکزونو توغوندی و ورول خو دی پیښی القاعده لا پسی و قهروله او په نیویارک یی په نړیوال تجارتی مرکز حمله وکړه (والله اعلم). تردی پیښی وروسته په متحده ایالاتو کی د جمهوریت غوښتونکو حکومت د جورج ډبلیو بوش په مشری په افغنستان باندی د حملی پلان جوړ او هغه یی عملی که.

په افغانستان کی د طالبانو د سقوط او د نړیوالی نظامی مداخلی وروسته داسی امیدواری را پیدا شوه چی په افغانستان کی به یو پراخ بنسته ملی دولت د امریکا په مشری د نړیوالو د هر اړخیزو مرستو په مټو جوړ او ددی نوی دولت زعامت به وگولای شی چی د دی جنگ وهلی هیواد په هر زخم مرهم او پټی ولگوی.

دولت جوړ شو د هیواد نه بیرون ډیر مسلکی او د دکتورا تر سطحی پوری د تعلیم والا کسان د پرونیو جهادی مشرانو په گډون په دولتی زعامت کی ورشامل شول، ژمنی وشوی قسمونه وخوړل شول چی ملی گټی به دهر څه نه مقدمی او محترمی وی.

خو له بده مرغه هسی ونه شول، کله چی چوکی اشغال شوی او نړیوالی مرستی د وران هیواد د جوړیدو په منظور را ماتی شوی او هغه د چا خبره د ډالرو سیلابونه را روان شول تر هر څه نه د مخه یی په دولتی زعامت کی ور گډ کسان او د غرب نه ورغلی په سر واخستل او د ټولنیز فساد په مخ حتی د طالبانو په وخت کی تړلی ټولی دروازی بیرته شوی.

د مخدره موادو مړه نړیواله مافیه بیرته را ژوندۍ شوه او ورسره د طالبانو خوری وری ډلگی ورو ورو دپاکستان له خوا بیا سره را ټولی، وسله والی او د نوو گذارونو د پاره چمتو شوی او که په ساده ژبه و وایو دپاکستان غوا، په افغانستان کی د نا اهله زعامت له برکته بیا لنگه شوه.

د جناب حامد کرزی صاحب د ۱۲ کلنی واکداری په موده کی ځنی گټور کارونه هم شویدی، چی باید سترگی پی پټی نه شی، مثلاً دولتی بدنه د ثلاثه قوا و په لرلو جوړه شوه، اساسی قانون را منځ ته شو، په ټول هیواد کی

د نجونو او هلکانو په مخ ښونځی پرانستل شول، پوهنتونونه فعال شول، روغتیایی مرکزونه جوړ شول، دکلیو پراختیایی پرګرامونه نیم و نیمکله تطبیق شول، ملی اردو او ملی پولیس صف بندی شول، د طبعی زیرمو نه د ګټی اخستنی مقدماتی کارونه تر سره شول او بلاخره د نړی سره سیاسی اړیکی ټینګی شوی. خو دا او داسی نور ګټور کارونه د هغو نړیوالو مرستو او کومکونو په تناسب چی د افغانستان دبیا رغونی د پاره د جناب جمهور رئیس حامد کرزی په ۱۲ کلنه زمامداری کی شویدی، ډیر ناچیز او په هیڅ حساب دی.

دلیل یی یواځی او یواځی په دی اوړده او د افغانستان د پاره په دی طلایی دوره کی د سالم، عاقل او مدبر ملی زعامت نشتوالی او نه موجودیت دی اوبس.

که څه هم ډیر وخت مو ضایع شو او ډیری ښه چانسونه مو له لاسه ورکړی، خو نور په کار دی چی دا ملت را ویښ شی، را بیدار شی او د خپل ستونی څخه د دی توری ویرونکی خپسکی منګولی لری کاندی. په لنډه توګه باید و وایم چی په ګران وطن افغانستان کی د ملی زعامت رامنځ ته کیدل دلاندی لاملونو له کبله ډیر اړین او ضروری دی :

الف :ــ اقتصادی نیمګړتیاوی :

۱ ــ افغانستان په اقتصادی لحاظ یو ډیر ناتوانه هیواد دی، حال داچی ټولی طبعی سرشاری منابع یی یا بی ګټی په ځمکه کی ښخی پاتی دی اویا هم د څو تنو زور واکانو په قبضه کی دی.

۲ ــ د ملی عایداتو څخه د ملی اړتیا دپاره ډیره کمه ګټه پورته کیږی او د دی عایداتو ستره برخه د زور واکانو او زمامدارانو شخصی جیبونو ته ځی.

۳ ــ سوداګریزی چاری ډیری نا منظمی دی، ملی سوداګر د دولتی مفسدینو ښکار دی او د غریب او نادار ولس په بدن د سوداګرو داړی ښخی دی.

۴ ــ تولیدی سکتور په نشت حساب دی او ټول هیواد دخارجی مالونو په مارکټ بدل شویدی، هیڅ تولیدی موسسه چی د ذیربطو دولتی اورګانو د لومړنیو مسؤلینو شخصی، برخه پکی نه وی دولتی سپورټ نشی تر لاسه کولی، چی هرکال په ګمرکی محصولاتو زیاتوالی همدا معنی ورکوی چی د یوه کال نه بل ته خارجی توکی په زیاته پیمانه هیواد ته واردیږی او صادرات درک نه لری.

۵ ــ د کرنی او مالداری په برخه کی د خلکود شخصی هلو ځلو په اساس د هماغه ابتدایی الاتو د په کار اچولو سره بیا هم تغیرات راځی خو داچی د دوی محصولاتو ته د خرڅلاو بازار چی د دولت وظیفه ده وجود نه لری ټول محصولات یی اکثرأ یا له منځه ځی او یا په ډیره کمه بیه پلورل کیږی.

۶ ــ د اهلی حیواناتو(چی د لبنیاتو او شحمیاتو د تولید یواځنی منبع ده) څړ ځایونو ته اصلأ د دولتی اور ګانونو پام نشته، بر سیره پردی هر کال د کوچیانو او ده نشینو تر منځ د همدی څرځایونو په سر خونړی پیښی را منځ ته کیږی او قومی دښمنیو ته پراختیا ورکوی.

۷ ــ په لسګونو داسی نوری کمبودیانی په اقتصادی برخه کی شته چی یواځی ملی زعامت یی د پوره کیدو توان لری.

ب : ــ سیاسی معضلی او بحرانونه :

۱ ــ افغانستان تقریباً د خپلو ټول ګاونډیو هیوادونو سره یا سرحدی او یا د روانو اوبو په سر ځنی لوی او واړه اختلافات لری چی ټولو ته په یوه ډول نه په یوه ډول د حل لاره وجود لری، خو دا چی یو مدبر ملی زعامت وجود نه لری د سیاسی ستونزو حل هم ناشونی برېښی، حال دا چی د هری ستونزی د حل لاره شته دی.

۲ ــ له بده مرغه همدا سرحدی اختلافات خصوصاً د پاکستان د هیواد سره د دی سبب جوړ شوی چی، د دی هیواد هر چاراکی د جوړښت له وخته تر ننه پوری په خپل ټول توان سره زیار ویستلی چی زموږ د هیواد په بربادی او بی ثباتی کی یو د بل نه مخکی شی.

۳ ــ ایران زموږ بل همسایه هیواد د هیلمند د دریاب د اوبو له کبله همیشه افغانستان ته په درد سر پیدا کولو کی زیار ویستلی او د همدی غرض له کبله یی تر ټولو د مخه فرهنګی یرغل پیل کړی، چا چی پخوا او یا که څوک نن په فارسی ژبه څه کتبور آثار خلق کړی هغه ایرانی بولی حتی فارسی یواځی خپله ژبه ګڼی او بل چا ته پکی برخه نه ورکوی.

۴ ــ هر ملت هغه وخت د نړیوال اعتبار نه برخه من کیدای شی، ملی معضلی کمی او د نړیوالو ستونزو په حل کی برخه واخلی، د نړۍ سره متعادل دیپلوماتیک مناسبات ولری او د نړیوالی ټولنی د یوه فعال غړی په توګه عمل وکړای شی چی زموږ هیواد ورنه محروم دی.

ج ــ ټولنیزی ستونزی او نیمګړتیاوی :

۱ ــ بی نظمی او قانون شکنی چی لوړو دولتی مقاماتو او نورو زور واکانو په هیواد کی را منځ ته کړی، دټولو اجتماعی ستونزو د موجودیت اساس جوړوی مثلاً :

ــ بشری حقوقو ته سپکاوی

ــ د بیکاری د کچی لوړتیا او پراختیا

ــ د ښځینه نسل په وړاندی د تاوتریخوالی شدت

ــ د اداری او اخلاقی فساد بی در مله ساری ناروغی

ــ بی کیفیته تعلیم او تحصیل

ــ د سرانه عاید او مصرف تر منځ د انډول نشتوالی

ــ د شتمنو ورځ په ورځ لا شتمن کیدل او د نادارو د غربت لا پسی زیاتیدل

ــ د ملی شتمنیو بی دریغه لوټ تالان

ــ د خونی، ژبنی، سمتی، مذهبی، سیاسی او نورو معاملو او تعلقاتو پر بنا د حساسو دولتی مقاماتو او سترو چوکیو اشغال بی د لیاقت او اهلیت څخه.

ــ په هیواد کی د میشته قومونو تر منځ اختلافاتو ته د لمن وهلو نه مخنیوی چی هم خارجی او هم داخلی منشاوی لری.

ــ په لوړه سطحه د مخدره موادو د تولید او ترانسپورت د مافیی او د نورو مجرمینو او جنایتکارانو حمایه او ملاتړ.

ــ په پاکستان او ایران کی د پرتو مهاجرو وطنوالو د بیرته راستنیدو په چارو کی هر اړخیزه بی توجهی او دشهیدانو او معلولینو حالت ته نه پاملرنه.

ـ د یوی ورځی نه بلی ته د امنیتی حالاتو خرابتیا او په هیواد کی د سولی او ثبات د تامین په لاره کی د آی اس آی دریغ ته سر ټیټونه.

ـ او په همدی تو گه نوری په لسگونو لوی او وړی معضلی وجود لری چی افغانان بی د یوه قوی ملی زعامت له لرلو پرته هیڅکله په دی نشی توانیدلی چی هغه حل او په نړی کی د یوه باعزته، با وقاره او ویاړلی ملت په توگه سر راپورته کړی.

زما دغه لیکنه بل هیڅ ډول سیاسی اړخ نه لری، یوائنی هدف دادی چی افغانان په هر ځای کی چی وی، په هیواد کی دننه او یا له هیواد نه بهر باید سره را ټول شی، سره جرگه او مرکه شی، مفاهمی ته سره ځان ورسوی او د یوه واقعاً ملی زعامت په را منځ ته کیدو او جوړیدو سره دغه اوږده ناورین ته د پای ټکی کیدی.

راځی چی یو کرت ځان و آزمایوو، اول په لوی الله تکیه، بیا یو پر بل باور وکړو او بیا په خپلو خلکو او ولسونو دا ایمان ولرو چی دوی په خپل حالت کی د تغیر او بدلون را وستلو وړتیا لری او یواځی همدوی کولای شی چی خپل درد ته درمان پیدا کړی او په خپل اختیار خپلواک ژوند وکړی.

**چی پخپله د خپل ځان چاره و نه کا ـــ نور څوک نه کوی چاره د بی چاره**

بری مو په برخه. انجنیر کـلیـوال